اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښيم: الله په ياد لره، هغه به دې ساتنه وکړي، الله په ياد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه يې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه يې وغواړه

د ابو العباس، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی، وايي چې: يوه ورځ زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم شاته وم، نو هغه وفرمايل: «اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښيم: الله په ياد لره، هغه به دې ساتنه وکړي، الله په ياد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه يې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه يې وغواړه، او پوه شه چې! که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تا ته د څه ګټه درورسوي، نو هغوی به تا ته هېڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته ليکلې وي، او که دوی راغونډ شي چې تا ته يو څه ضرر ورسوي، نو هېڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالى درته ليکلى وي؛ قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي». او له ترمذي پرته په بل روايت کې راځي: " الله په ياد لره، هغه به دې تل مخې ته ومومې، په آسانۍ (راحت) کې الله وپېژنه چې په سختۍ کې دې وپېژني، او پوه شه چې، هغه څه چې تاته ونه رسېدل، شونې نه وه چې تا ته در ورسېږي، او هغه څه چې تا ته ورسېدل، شونې نه وه چې بچ شي، او پوه شه چې برېا د صبر سره ده او پدې چې له سختۍ سره اسانې وي، او خوشالي د سختۍ سره راځي».

[صحيح دی] [الترمذي او نورو روايت کړی]

ابن عباس رضي الله عنهما خبر ورکوي چې هغه کوچنی و او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: زه تاته يو څه چارې او شيان درښيم چې الله تعالى به پرې ګټه در ورسوي: الله - تعالى - د هغه د اوامرو په ساتلو او له منهياتو څخه يې په ځان ژغورلو سره ياد ساته، داسې چې په اطاعت او عبادت کې دې ومومي او په نافرمانۍ او ګناهونو کې دې ونه مومي، نو که چېرته دې داسې وکړل، بدله به دې دا وي چې الله تعالى به دې د دنيا او آخرت له سختيو وساتي او په هر ځای کې چې يې، نو په چارو کې به دې درسره مرسته وکړي او برېا به درکړي. او کله دې چې څه غوښتل نو يوازې له الله جل جلاله يې وغواړه، ځکه الله؛ يوازې هغه - ذات دی چې - د سوال کوونکو سوال قبلوي. او که مرسته دې غوښتله نو له الله پرته يې له بل چا مه غواړه. او بايد دا باور ولرې چې که د ځمکې ټول خلک تاته د ګټې رسولو لپاره راغونډ شي، تاته هېڅ ګټه لاسته نه درځي مګر هغه چې الله - جل جلاله - درته ليکلې ده، او که د ځمکې ټول خلک تاته د ضرر رسولو لپاره راغونډ شي، نو تاته به هېڅ ضرر ونه رسېږي مګر هغه چې الله تعالى درته ليکلى دى. او دا چې دا کار د الله پاک لخوا د هغه د حکمت او پوهې له مخې ټاکل شوى، او د الله جل جلاله حکم لره هېڅ بدلون نشته. او الله تعالى چې د اوامرو په پر ځای کولو او له نواهيو څخه په ځان ژغورلو سره د چا ساتنه وکړي؛ نو تل به يې ملاتړ وي، له حاله به يې خبر وي، مرسته به ورسره کوي او ملاتړ به يې کوي، او کله چې يو انسان په خوښۍ (او هوسانينه) کې د الله اطاعت وکړي، نو په سختۍ کې به يې له ستونزو خلاص کړي او د وتلو لار به ورته برابره کړي. هر بنده ته په کار دي چې د الله له خوا په هر ټاکل شوي برخليک راضي اوسي؛ هغه که خبر وي او يا شر، او د سختيو او آزمويښو پر مهال بنده ته په کار ده چې صبر وکړي، ځکه صبر د خلاصون کيلي ده، او کله چې سختي ډيره شي، نو د الله تعالى لخوا راحت او خلاصون راځي، او کله چې تنګستيا راشي نو الله تعالى ورپسې اساني راولي.